# سوات: د بهته خوریی لویه شبکه بے نقابه کړي شوه اصلي ماسټر مایند نیول شوی

پېښور: دولایتي امنیتي ارګانونو په بریالیو ګډو عملیاتو کې د بهتو اخستونکو یوه ستره شبکه کشف کړي ده۔ د سوات نه د ماسټر مینډ په شمول څو کسان نیول شوي دي۔

**د تفصیلاتو ترمخه د کراچۍ یو سوداګر د افغاني نمبر نه د بهته خوریۍ شکایت درج کولو نه پس رینجرز کراچۍ او سي ټي ډي پېښور په ګډه د تخنیکي بنیادونو پلټنه کړې ده۔ په نتیجه کې په بهته اخستو کې ککړ اصلي ماسټر مایند د سوات څخه دخپلو ملګرو سره نیول شوی دی۔**

د بهته خور ډله د بهته خوریۍ په ګڼو عملیاتو کې ښکیله وه چې پکې مهم سیاسي شخصیتونو ته د ګواښونو پیغامونه ورکول هم شامل وو. د نیول شوو کسانو د معلوماتو په رڼا کې د لا زیاتو نیوکو تمه کیږي۔